باد مه ښکنځئ (لعنت پرې مه وایئ)، نو کله چې داسې څه ووینئ چې نه مو خوښېږي، دا دعا ووایئ: «اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هَذِهِ الرِّيحِ وَخَيْرِ مَا فِيهَا وَخَيْرِ مَا أُمِرَتْ بِهِ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هَذِهِ الرِّيحِ وَشَرِّ مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا أُمِرَتْ بِهِ». «اې الله! مور ستا نه د دې باد خېر غواړو او هغه څه چې پکې دي، او د هغه څه خېر چې دې باد ته يې امر شوی، او پر تا د دې باد له شر څخه پناه غواړو او د هغه څه له شر نه چې پکې دی او له هغه شر نه چې دې باد ته يې امر شوی دی

له ابی بن کعب رضي الله عنه نه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «باد مه ښکنځئ (لعنت پرې مه وایئ)، نو کله چې داسې څه ووینئ چې نه مو خوښېږي، دا دعا ووایئ: «اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هَذِهِ الرِّيحِ وَخَيْرِ مَا فِيهَا وَخَيْرِ مَا أُمِرَتْ بِهِ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هَذِهِ الرِّيحِ وَشَرِّ مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا أُمِرَتْ بِهِ». «اې الله! مور ستا نه د دې باد خېر غواړو او هغه څه چې پکې دي، او د هغه څه خېر چې دې باد ته يې امر شوی، او پر تا د دې باد له شر څخه پناه غواړو او د هغه څه له شر نه چې پکې دی او له هغه شر نه چې دې باد ته يې امر شوی دی».

[صحيح دی] [الترمذي روایت کړی دی]

نبي صلی الله علیه وسلم د باد له ښکنځلو یا پرې لعنت ویلو څخه منع کړې ده، ځکه هغه ته د خپل خالق له لورې سپارښتنه شوې ده؛ کله د رحمت لپاره راځي، او کله د عذاب لپاره، نو ښکنځل يې د خالق - تعالی - شکنځل او د هغه د تقدیر او فیصلې پر ضد ناخوښي ده، بیا نبي صلی الله علیه وسلم لارښوونه وکړه چې انسان باید الله تعالی ته رجوع وکړي، له هغه څخه د دې باد خېر وغواړي، او هغه خېر ترې هم وغواړي چې پدې باد کې دی، او د هغه څه خېر هم چې دې باد ته يې سپارښتنه شوې ده لکه: باران ورول، (د بوټو تر منځ القاح) او نور داسې نورې ګټې. همداراز له الله تعالی څخه د دې له شر نه پناه غوښتل او د هغه څه له شر نه چې پکې دی، او د هغه څه له شر نه چې دې باد ته يې سپارښتنه شوې ده لکه: د نباتاتو، ونو، مالدار له منځه تلل، د ودانیو ړنګېدل، او داسې نور زیانونه، او په دې کې د حقیقت څرګندېدل دي الله تعالی ته د بندګ.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5976